WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
## د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** 59 (از 5 الی 12 دلو 1392 هـ ش)

این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می گردد تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

### 1 – وقتی کشتی نرم به خشونت می‌انجامد!

- از آن ببعد تنش در روابط میان کرزی و قصر سفید آغاز شد. هرچند رئیس جمهور کرزی از کشتی نرم میان خودش و امریکا برای تأمین منافع افغانستان سخن گفت، اما در مواردی این کشتی نرم از حالت نرمی بیرون آمد و بخصوص در جریان وقایعی مانند کشتار غیرنظامیان بدست نیروهای امریکا و ناتو، لحن حامد کرزی در بعضی از موارد بشدت پرخاش‌گرانه شد.

## 2 – پاکستان-امریکا ستراتېژیکي خبرې اترې

- دلته یوه مسئله د پام وړ ده؛ له امریکا سره د افغانستان د امنیتي تړون مسئله دمګړۍ ښه توده روانه ده. د تړون پلویان د خپلې ادعا د توجیه لپاره یو دلیل هم دا وايي، چې امریکا ته د پوځي اډو ورکړه ځکه مهمه ده، چې ګاونډیان زموږ امنیت له خطر سره مخ کوي. دا په دې معنا چې د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې «zero-sum game» واکمن دی؛ دا په نړېوالو اړیکو کې هغه حالت ته ویل کېږي، چې د یوه هېواد ګټه د بل هېواد په زیان وي. اوس له پاکستان سره د امریکا هره معامله د افغانستان او له افغانستان سره یې هره معامله د پاکستان په زیان ده. له پاکستان سره ستراتېژیکي خبرې اترې او په مختلفو برخو کې له افغانستان سره بیا د امنیتي تړون اړتیا (؟) منتفي کوي.

## 3 – د اداري فساد د مبارزې د ماتو دوام

- زموږ اوسنی اداراتي سیستم د بروکراسۍ په علمي معنا، د هغې د وړاندې مهال له کاري سیستمونو هم ناکار او حتی خطرناک سیستم ته ورته دی او دا حالت نه یوازې بروکراسۍ، دولتوالۍ او د ملت د چارو سمبالښت ته سخت زیان اړوي؛ بلکې ورځ تر بلې د اداري فساد د مهلکې ناروغۍ د ژورېدلو زمینې هم برابروي.

## بخش سیاسی:

# وقتی کشتی نرم به خشونت می‌انجامد!

وحید مژده؛ نویسنده، ژورنالیست و تحلیلگر مسائل سیاسی



پایان قدرت جمهوری خواهان در امریکا و بقدرت رسیدن دیموکرات‌ها در سال 2009 میلادی، برای حامدکرزی ارمغان خوبی نبود. جمهوری‌خواهان حامی کرزی در انتخابات شکست خورده بودند و دیموکرات‌ها وضع ناگواری از جنگ و مشکلات اقتصادی را، از سلف خویش به ارث بردند که جنگ افغانستان و رئیس جمهور کرزی نیز بخشی از آن میراث بود. بنا بر این طبیعی می‌نمود اگر دیموکرات‌ها در صدد برآیند تا تغییری در حکومت افغانستان ایجاد نمایند.

در همین سال در افغانستان نیز انتخابات ریاست جمهوری برگزار شد، اما به دلیل اینکه هیچ نامزد نتوانست آرای لازم برای برنده شدن در دور اول را بدست آورد، انتخابات به دور دوم رفت. هرچند انتخابات دور دوم برگزار نشد و حامدکرزی به فیصلۀ کمیسیون مستقل انتخابات، بار دیگر به ریاست جمهوری رسید اما این انتخابات، رابطه میان کرزی و امریکا را به سردی کشانید. همانگونه که رابرت گیتس وزیر دفاع آن زمان امریکا در کتاب خویش اعتراف می کند، امریکا در جریان این انتخابات قصد داشت تا حامدکرزی را از قدرت برکنار نماید.

از آن ببعد تنش در روابط میان کرزی و قصر سفید آغاز شد. هرچند رئیس جمهور کرزی از کشتی نرم میان خودش و امریکا برای تامین منافع افغانستان سخن گفت، اما در مواردی این کشتی نرم از حالت نرمی بیرون آمد و بخصوص در جریان وقایعی مانند کشتار غیرنظامیان بدست نیروهای امریکا و ناتو، لحن حامدکرزی در بعضی از موارد بشدت پرخاش گرانه شد.

روایتی که حامدکرزی از رفتار مقامات امریکایی با خودش دارد خوش‌آیند نیست؛ وقتی سناتور لیدنسی گراهام در جواب حامدکرزی که می‌گوید من به شما اجازه نمی‌دهم تا افغان‌ها را به زندان بیاندازید، می‌گوید که «تو فقط یک فرد هستی و کاری نمی‌توانی بکنی» مشخص است که امریکایی‌ها هرگز کرزی را جدی نمی‌گرفتند. آن‌ها کرزی را شخصی می‌شناختند که نه تنها از حمایت حزب سیاسی قدرتمندی برخوردار نیست. بلکه در کشور تقسیم شده بر بنیاد قوم‌گرایی، از حمایت قوم خود نیز بهره‌ای ندارد و پشتون‌ها علیه دولت وی درگیر جنگ اند.

رویه‌ای از این دست را نه تنها بعضی از اعضای کانگرس با کرزی داشتند، بلکه وزیر خارجه چون جان کری هم از حامدکرزی خوشش نمی‌آمد، در بعضی از موارد، خبر از مشاجرۀ لفظی میان حامدکرزی و فرماندهان نظامی امریکا و حتی سفیر امریکا در کابل، نیز به بیرون درز می‌کرد.

مشکل کرزی این بود که در حالیکه در روابط با امریکا روزهای نه چندان خوبی را تجربه می‌کرد، نخواست تا از همان آغاز کار ملت را در جریان این ماجرا قرار دهد. او اگر این مسایل را با روشنی با ملت در میان می‌گذاشت، امروز با این موقعیت مواجه نمی‌شد. او برای تصمیم در مورد امضای قرارداد همکاری‌های استراتژیک با امریکا، لویه جرگه‌ای را فراخواند. اعضای شرکت کننده در آن جرگه، هرچند تحت فشار بودند که قرارداد را رد نکنند، اما در همان شرایط نیز اعضای جرگه بیش از 80 شرط را مطرح ساختند که باید قبل از امضای قرارداد در آن گنجانیده شود. هرچند کرزی در پایان لویه جرگه به شرکت کننده‌گان وعده داد که آن شرایط را در امضای قرارداد رعایت خواهد کرد، اما شرایط پیشنهادی به فراموشی سپرده شد و رسانه‌ها و نهادهای وابسته به امریکا، یک صدا از تائید قرارداد همکاری‌های استراتژیک بدون قید وشرط سخن گفتند و کرزی نیز با امضای آن قرارداد با اوباما، درحقیقت بر همان موقف مهر تائید نهاد.

این تصمیم اشتباه موجب شد تا در لویه جرگه، در مورد قرارداد امنیتی با امریکا، نیز همان انتظارات توسط طرفداران حضور امریکا در افغانستان، مطرح شود و کرزی که شرایط پیشنهادی اعضای لویه جرگۀ پیمان امنیتی را نادیده گرفته بود، در این مورد نیز زیر فشار قرار گرفت تا قرارداد را بدون قیدوشرط امضا کند.

این جرگه که به منظور خاک پاشیدن به چشم ملت و دادن مشروعیت به سلطۀ نامشروع امریکا بر افغانستان، به امر رئیس جمهور کرزی دایر شده بود، فرجامی خلاف خواست وی نیز داشت. اگر منظور کرزی از بمیان آوردن چنین جرگه، تقویت موضع خودش در برابر فشارهای امریکا بود، کاملا مشخص شد که در رسیدن به این هدف

ناکام ماند. جرگه وفیصله‌هایش و نیز سخنان صبغت الله مجددی رئیس نود سالهٔ این جرگه، موضع کرزی را بشدت تضعیف نمود.

تردیدی نیست که کرزی می‌خواست با گردآوری جمعی از افراد با طرز فکرهای گوناگون، فضایی را بمیان آورد که امکان رسیدن به توافق به نفع امریکا را کمرنگ سازد، اما تدویر کننده‌گان این لویه جرگه بیش از اینکه به اهداف کرزی هماهنگ باشند، به تطبیق خواست‌های امریکا متعهد بودند و فیصله‌های جرگه، خلاف خواست کرزی طوری مهندسی شد که به امریکا فرصت داد تا در این لویه جرگهٔ فرمایشی، در کنار مردم افغانستان عکس یادگاری بگیرد! این جرگه خواست کرزی را رد کرد و اکنون امریکا می‌تواند بگوید که مردم افغانستان درمیان خواست‌های کرزی و امریکا، در کنار امریکا ایستاده‌اند.

کرزی به این امید بود که تیمی را در کنار خود دارد که می‌تواند به آن‌ها تکیه کند، اما اکنون مشخص شد که این مرد در ارگ ریاست جمهوری کاملاً تنهاست. او امیدوار است که بعد از سال 2014 به کمک همین تیم، سایهٔ خود را بر حکومت آینده حفظ نماید، اما امریکایی‌ها در این لویه جرگه قدرت خود را به رخ کرزی کشیدند و به او فهماندند که اگر علیه خواست امریکا موضع بگیرد، امریکا توان تجرید وی را حتی در میان اطرافیانش نیز دارد. اکثریت کسانی که سال‌ها در کنار کرزی بودند، می‌دانند که کرزی رفتنی است و بنابراین برای ماندن در این میدان برای سال‌های آینده، از میان کرزی و امریکا، کرزی را انتخاب نخواهند کرد.

بنابراین نتیجه این شد اکثریت شرکت کننده‌گان این جرگه از رئیس جمهور کرزی خواستند، تا این قرارداد را قبل از پایان سال 2014 میلادی با امریکا به امضا برساند و جان کری وزیر خارجهٔ امریکا هم با استناد به این فیصله گفت که مردم افغانستان حضور امریکا را در افغانستان تائید کرده اند و دلیلی برای تأخیر در امضای توافق نامه، باقی نمانده است.

تأکید بر اهمیت این لویه جرگه قبل از تدویر آن، سبب شد تا اکنون امریکا و یاران افغانش مدعی شوند که کرزی در برابر خواست مردم افغانستان ایستاده است. این تنگنایی است که کرزی خود بدست خویش زمینهٔ محصور شدن خود در آن را فراهم کرد. او اگر واقعاً قصد دفاع از منافع ملی را هم داشت، نباید دست به این کار می‌زد و برای حضور بی قیدوشرط امریکا در افغانستان، چنین خوراک تبلیغاتی را فراهم می‌ساخت.

به هرحال کرزی در کنفرانس مطبوعاتی اخیر، بار دیگر با لحن تند از امریکا به انتقاد پرداخت و روی شرایط خود برای امضای قرارداد امنیتی، تاکید مجدد داشت. وی یکبار دیگر به نقش امریکا و پاکستان در پروسهٔ صلح تاکید کرد، اما وی به یک مسئلهٔ دیگر یعنی موضوع زندانیان بگرام نیز پرداخت. کرزی گفت که زندان بگرام کارخانهٔ طالب سازی است؛ زیرا بسیاری از افراد بیگناه در این زندان به بند کشیده می‌شوند و وقتی بعد از مدت‌ها این اشخاص از زندان آزاد می‌شوند، بخاطر عقده‌ای که از به زندان افتادن می گیرند، به صف طالبان می‌پیوندند.

هرچند حکومت افغانستان نمی گوید که همه زندانیان بگرام بیگناه هستند و به همین دلیل شانزده تن از این زندانیان که علیه شان شواهد موجود است، محاکمه خواهند شد؛ اما طبق قانون اساسی افغانستان و نیز اعلامیهٔ جهانی حقوق بشر، برائت ذمه حالت اصلی است و هیچکس را نمی‌توان مجرم دانست، مگر به اساس حکم محکمهٔ قانونی که در آن امکان دفاع از متهم فراهم شده باشد.

برای برپا شدن محاکمه لااقل سه شرط ضرورت است؛ مدعی، مدعی علیه یا متهم و مدعا بها یا دلیلی که متهم به استناد آن محاکمه می‌شود. وقتی مدعی علیه اقامهٔ دعوی می‌نماید، باید شواهد و اسناد محکمه پسند برای اثبات جرم مدعی علیه ارائه نماید، تا قاضی بر بنیاد آن قضاوت نموده و حکم صادر کند. در مورد زندانیان زندان بگرام، مدعی امریکاست، مدعی علیه تعدادی از افغان‌ها که توسط امریکایی‌ها زندانی شده‌اند و مدعا بها اینکه این افراد به اشکال مختلف درکشتار نیروهای خارجی و افغان دست داشته‌اند. بگذریم از اینکه امریکا بر بنیاد کدام قانون به خود حق می‌دهد که افغان‌ها را زندانی کند، اما حکومت افغانستان بر بنیاد قانون، از امریکا خواسته است تا در مورد اتهام‌های وارده بر این افراد، اسناد ارائه نماید. اسناد امریکا که توسط تلویزیون‌های ظاهرا افغان نیز به نشر رسیده، فقط لیستی از نامهای این افراد است که درکنار آن اتهامی نوشته شده، بدون اینکه در این مورد سندی ارائه شده باشد.

در مقابل مقامات افغان هم لیستی از حملات هراس افگنانه را ترتیب داده‌اند که مدعی اند، امریکا برای ایجاد بحران در افغانستان در آن حملات دست داشته است. به نظر می‌رسد که کشتی نرم حامدکرزی با امریکا در پایان دوران اقتدار وی، به کشتی خشن مبدل گردیده است واین درحالیست که افغانستان انتخابات ریاست جمهوری را در پیش دارد. آیا با بمیان آمدن چنین بحران در روابط میان افغانستان و امریکا، می‌توان به یک انتخابات بصورت نسبی خوب که بتواند دست بدست شدن قدرت از راه مسالمت آمیز را تضمین کند، اطمینان داشت؟

# پاکستان-امریکا ستراتېژیکې خبرې اترې

ذاکر جلالي



د تېرې دوشنبې په ورځ، د امریکا او پاکستان ترمنځ ځنډېدلې ستراتېژیکې خبرې اترې، له سره پیل شوې. دا مذاکرات د پاکستان له لوري د دغه هېواد امنیتي او سیاسي سلاکار او د امریکا له لوري د هغه هېواد بهرنیو چارو وزیر جان کېري پر مخ وړل.

جان کېري د خبرو اترو پر لومړۍ ورځ وویل، چې هیله‌من دی پاکستان د «اسیایي پړانګانو» په کتار کې ووینې. «اسیایي پړانګان» هغو اسیایي هېوادونو ته (هانګ کانګ، سنګاپور، تایوان، سویلي کوریا) کارول کېږي، چې په دې وروستیو کې یې د پام وړ اقتصادي وده کړې ده. درې کاله مخکې په ۲۰۱۱م کال کې ځینې داسې پېښې وشوې، چې د امریکا او پاکستان اړیکې یې تر وروستي بریده ترینګلې کړې. د ۲۰۱۱م کال په جنورۍ میاشت کې د امریکایي استخباراتي کارمند (ریمنډ ډېوس) له لوري، په لاهور کې د دریو تنو پاکستانیانو وژنه، د مۍ میاشتې په دریمه په ایبټ اباد کې د اسامه بن لادن پر استوګن ځای برید او بیا د یاد شوي کال په اکتوبر میاشت کې د امریکایي ځواکونو له لوري، پر پاکستاني پوستې برید او تر پېنځلسو پورې پاکستاني پوځیانو وژنه، هغه لاملونه وو چې دغه ستراتېژیکې خبرې یې وځنډولې.

سرتاج عزیز، چې پوخ ډیپلومات دی، په دې خبرو اترو کې د پخوا په پرتله له امریکا ډېرې غوښتنې لرې. دی اوس پر دې ښه پوهېږي، چې هېواد یې امریکا ته څومره مهم دی. عزیز وویل، دی غواړي چې د دوو هېوادونو اړیکې له «معاملاتي» ډول څخه «ژور مشارکت» ته بدلې کړي، چې متحده ایالات به پاکستان ته د افغانستان او تروریزم له سترګو نه ګوري. عزیز په خپلو خبرو کې، د خپل هېواد اندېښنې بربنډې کړې. ده وویل: «زه ډاډه یم، چې تاسې ټول به راسره موافق یاست، چې کله چې امریکا په ۱۹۹۱م کال کې سیمه

پرېښوده او بیا چې په ۲۰۰۱م کال کې بیا سیمې ته راغله، د پاکستان ملي امنیت په پام کې نه دی نیول شوی». سرتاج عزیز له امریکایانو دا ګیله هم وکړه، چې د هند په پرتله د ده د هېواد اندېښنې جدي نه دي نیول شوې. عزیز له امریکایانو وغوښتل، چې په ټولو سطحو کې دوه اړخیز باور منځته راشي. د پاکستان د ملي امنیت سلاکار په زغرده وویل، چې «د افغانستان جګړه باید په مسؤولانه ډول پای ته ورسول شي او تېرې غلطۍ ښایي تکرار نه شي».

اوس چې بیا حالات څه نا څه د ۱۹۹۱م کال په څېر دي، پاکستان یو ځل بیا د امریکا په بهرني سیاست کې د پام وړ ارزښت خپل کړی. د امریکا زیات شمېر ځواکونه به، د روان زېږدي کال تر پایه افغانستان پرېږدي، چې د دغو ځواکونو د هغو تجهیزاتو په لېږد کې، چې کباړ کوي یې نه، د پاکستان ځمکنۍ لار تر ټولو لنډه او ارزانه لار ده. پاکستان ته هم دا پېښه ارزښتناکه ده. لکه څنګه چې سرتاج عزیز وویل، چې امریکا له وتلو وروسته، په سیمه کې تشه رامنځته کوي. نو پاکستان هم غواړي په دې «تشه» کې د خپل رول لوبولو لپاره، د امریکا باور ترلاسه کړي.

په پاکستان کې عامه افکار او په خیبر پښتونخوا ایالت کې د عمران خان تحریک انصاف ګوند حکومت، چې په دې وروستیو کې یې امریکاییضد دریځ خپل کړی، په همداسې د امریکا په زیان وضعیت کې له افغانستانه د دغه هېواد د ځواکونو وتل، هغه لاملونه دي، چې امریکا یې بیا اړایسته څو له پاکستان سره ستراتېژیکې خبرې اترې بیا پیل کړي. د خبرو په دغه پړاو کې د امریکا هڅه دا ده، چې پاکستان ته د امتیاز ورکولو له لارې، د دغه هېواد له ځمکې خپل پوځي تجهیزات وباسي. د پاکستان له لوري سرتاج عزیز هم د خپل هېواد اوسنی ارزښتناک رول ښه درک کوي او پوهېږي، چې له امریکا څخه د امتیاز ترلاسه کولو ښه موقع ده، نو خپلې غوښتنې په جرئت سره مطرح کوي.

په پاکستان کې د عمران خان په پرتله د نوازشریف ګوند اوسمهال امریکا ته نېک نظر او له طالبانو سره په جګړه کې پرېوتی، چې دا دریځ یې ښایي په پاکستاني ولس کې محبوبیت ته زیان واړوي. د نوازشریف د حکومت هڅه هم دا ده، چې له امریکا سره د ستراتېژیکو خبرو اترو د بیا پیل او د انرژۍ، امنیت، دفاع، قانون حاکمیت او اقتصاد په برخو کې، د امریکا مرستې راخپلې کړي، چې له دې لارې کولای شي، د پاکستاني ملت عامه افکار د ځان په ګټه بدل کړي.

دلته یوه مسئله د پام وړ ده؛ له امریکا سره د افغانستان د امنیتي تړون مسئله دمګړۍ ښه توده روانه ده. د تړون پلویان د خپلې ادعا د توجیه لپاره یو دلیل هم دا وايي، چې امریکا ته د پوځي اډو ورکړه ځکه مهمه ده، چې ګاونډیان زموږ امنیت له خطر سره مخ کوي. دا په دې معنا چې د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې «zero-sum game» واکمن دی؛ دا په نړیوالو اړیکو کې هغه حالت ته ویل کېږي، چې د یوه هېواد ګټه د بل هېواد په زیان وي. اوس له پاکستان سره د امریکا هره معامله د افغانستان او له افغانستان سره یې هره معامله د پاکستان په زیان ده. له پاکستان سره ستراتیژیکې خبرې او په مختلفو برخو کې، له افغانستان سره بیا د ستراتیژیک تړون اړتیا(؟) منتفي کوي.

له افغانستان سره چې کوم تړون تر بحث لاندې دی، هلته هسې تشې خبرې دي. هسې لفظي ژمنې، چې هېڅ ډول تضمین نه لري. که پاکستان د امریکا په سیمه کې باورمن پارټنر دی؛ نو بیا له افغانستان سره د تړون اړتیا څه ده؟!

## د اداري فساد د مبارزې د ماتو دوام

عبدالله الهام جمالزی، د سیاسي چارو شنونکی



د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمېټې، په هېواد کې د خدماتو په وړاندې کوونکو کلیدي ارګانونو کې د پراخ اداري فساد د شتون خبره بیا را پورته کړې ده. د دې کمېټې غړو ویلي، چې د ګمرکونو او بیا راستنېدونکو، کار او ټولنیزو چارو او لوړو زده کړو وزارتونه او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو اداره، هغه ارګانونه دي چې په پراخ اداري فساد کې ښکېل دي.

دا یوازېني ارګانونه هم نه دي او نه اوس هغه وخت دی، چې اداري فساد پکې د پام وړ کرځېدلی، د ملګرو ملتونو له خوا د وړاندې شوو احصاییو له مخې، له ۲۰۰۱ زېږدي کال راهیسې، له اداري فساد سره د مبارزې له ګڼو هڅو سره سره، دا ښکارنده د ودې په حال کې ده او د افغان دولت په بېلابېلو اداراتو او برخو کې یې غځونې کړې دي. د هغه تصور خلاف چې فکر کېده، د اداري فساد د مبارزې لپاره د سیاسي ارادې نشتوالی، د دغې ښکارندې د ودې ستر عامل دی؛ د اداري فساد عوامل ښیي، چې ریښې یې داسې ژورې او پېچلې دي، چې د افغانستان اوسنی دولت چې په جګړو، اقتصادي بې وزلۍ، بهرنیو لاسوهنو، بنسټیزو او اداراتي کمزوریو او په بېلابېلو برخو کې له بنسټیزو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، په یوازې سر په آسانۍ سره دا مبارزه بریا ته نشي رسولای؛ ځکه په ټولنه کې د منفي ښکارندو پر وړاندې د مبارزې اخلاقي او کلتوري کمزورۍ او څه باندې درې لسیزې جګړې او د پراخو پېچلو بهرنیو لوړو ښکېلتیا او دغه راز د هېواد د راتلونکي په اړه د یوه ډاډ نشتوالي، له فساد سره د مبارزې پروسه نوره هم سخته او حتی غیر مؤثره کړې ده.

په ټولنه کې عمومي او اخلاقي کلتور او فرهنګ چې د لوټ، چور او تالان سره په یو ډول نه یو ډول عادت شوی، د مسؤولیت او قدرت او اداراتي کمزوری رول، د کاري امنیت نشتوالی، مصلحت اندیشي او زورواکي، د بهرنیو ځواکونو او لاسوهنو شتون، مافیایي کیفیتونه، د پیاوړو او پاکو نظارتي مراجعو نشتوالی، د راتلونکي په اړه نهیلي او پر راتلونکي بې باوري، د دولت د حاکمیت کمزوري، قومي او تبر پالونکي اداراتي وېشونه، اقتصادي اړتیاوې او بې وزلي، ناامنی او په قضاییه قوه کې پخواني سیستمونه او پراخ فساد، بیا د شنونکو له انده له فساد سره په مبارزه کې په موثر مېکانېزم منفي اغېز غورځوي، چې په دې منځ کې مهم یې د نظام او سیاسي حاکمیت تداوم او پایداری، د داد او سیاسي ټیکاو نشتوالی دی.

په هېواد کې د اداري فساد د جررو علمي څېړنې او شنې او په عواملو او په دې برخه کې د یوې جامع ملي حل لارې او تګلارې او مېکانیزم نشتوالی، د دې برخې تحلیل هم سختوي؛ خو په یوه لنډ نظر کې د قانون نه تطبیق، د عمومي ارګانونو سیاسي کېدل، معلوماتو ته د ټولنې نه لاسرسی او بېرته په اصلاح او سمون کې د هغوی نه ونډه، د بودیجو په اجرا او مدیریت کې د شفافیت، ځواب ویلو او مسؤولیت منې د تضمین کوونکي سیستم نشتوالی، په خدمات وړاندې کوونکو ارګانونو کې د مؤثرو او کارندو مېکانېزمونو او پر هغو د څارنې نشتوالی، په دولتي برخه کې د کارکونکو تر منځ د انګېزې او تحرک نشتوالی او یا هم د قضایي ارګانونو ضعف، د اداري فساد په وده کې په یوه برسېرن نظر کې پام ځانته اړوي.

له همدې امله دي، چې د اداراتي سیستم د پېچلتیاوو له منځه وړل، په کارکوونکو کې د انګېزې روزل، د دغې مبارزې د بریا په موخه د خلکو او مدني ټولنې او خصوصي سکتور او دولتي ارګانونو تر منځ د همکاریو د سیستم رامنځته کولو، د ارګانونو او اداراتو تر منځ دوه اړخیزې او څو اړخیزې همکارۍ پیاوړي کول، د اداري فساد د مبارزې په تګلارو کې په کلکه په پام کې نیول هم اړین بریښي.

کابو ټول ملتونه، چې نظامونه لري او د چارو د منظمې اداري اړتیا لري، د اداراتي سیستم اړتیا لري او حتمن یې تجربه هم لري، دا سیستمونه په مختلف ډول د ټولنې اړوندو اړتیاوو ته په پام سره وخت په وخت بدل شوي، نوي شوي او د خپلې ټولنې اړتیا هغه ډول چې بایده ده پوره کوي؛ چې عینې څه په افغانستان کې هم طبیعي خبره ده چې وو، دا چې تاریخ یې په څه ډول تر نن ورځې را رسېدلی بېل بحث دی؛ خو مهمه دا ده چې نن ورځ موږ یو منظم او د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویونکی اداراتي سیستم نه لرو.

زموږ اوسنی اداراتي سیستم د بروکراسۍ په علمي معنا، د هغې د وړاندې مهال له کاري سیستمونو هم ناکار او حتی خطرناک سیستم ته ورته دی او دا حالت نه یوازې بروکراسۍ، دولتوالۍ او د ملت د چارو سمبالښت ته سخت زیان اړوي؛ بلکې ورځ تر بلې د اداري فساد د مهلکې ناروغۍ د ژورېدلو زمینې هم برابروي.

هغه ډول قوانین او جوړښتونه، چې د اوږده مهال لپاره د افغاني ټولنې اړتیاوو ته ځواب ووایي نشته او دا ځکه چې دا سیستم او ډول ډېر وړاندې طراحي شوی او بیا هېڅکله هم چا بیاکتنه نه ده پرې کړې او نه هم جدي جدي پام ورته شوی، او د افرادو ده چې دا ستونزه تر پخوا ډېره پراخه شوې ده؛ ځکه مصلحتونو او یو شمېر نورو ستونزو د بروکراسۍ ملا ور ماته کړې. بله موضوع د امکاناتو ده، چې په دې برخه کې هم که کار شوی په درد یې ځکه نه دي خوړلي، چې که د پخوانیو دوسیو او ابزارونو په ځای کمپیوټر او مدرن وسایل ورکړل شوي، بیا هم په دودیز ډول کارول کېږي، چې دغه پرمختګ هم په درد نه دي خوړلي.

بل مهم څه دا دي، چې په بروکراتیک نظام کې که سیاست په هرلوري ځي کاري سیستم پر خپل ځای، چې دا د هېواد د اوږدمهالي ثبات لپاره ډېره مهمه خبره ده، د بروکراتیکو اصلاحاتو راوړل، د ادارو اصلاح کول او په دې برخه کې د بدلونونو راوړل، په اوسنیو شرایطو کې داسې ښکاري، چې د اداري اصلاحاتو مربوطېږي؛ په داسې حال کې چې اوس همدا اداره د ترټولو په فساد کې ښکېلو ادارو په نوملړ کې راځي.

دغه راز له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې، د جامع او هر اړخیزو مطالعاتو او څېړنو په پایله کې، د لومړیتوبونو مشخص کول او په دې برخه کې د عملي ګام اخېستلو لپاره د پیاوړې هوډ شتون هم هغه انګیزه ده، چې دا مبارزه یوه ځای ته رسولی شي، کنه هسې به لکه دا اوس د اداري فساد په برخه کې ورځ تر بلې د زیاتېدونکې کچې د احصایې رپوټونه لولو او حتی له اداري فساد سره د مبارزې په نامه په جوړو شوو ادارو کې به هم د پراخ اداري فساد شاهدان یو. پای